# باچا خان ټرسټ په پښتونخوا کښې دولسم اسکول پرانستو

پېښور - د باچا خان پرائمري سکول هوسۍ روډ شهباز ګړهې مردان باقاعده پرانسته د قامي اسمبلۍ د غړې محترمه جمیله ګېلاني په لاس د دسمبر په څلورمه نېټه وشوه او دا شان د باچا خان ټرسټ ایجوکیشنل فاؤنډېشن سکولونو شمېر په دوېم کال دولسو ته ورسیدو په کومو چې میلمنو او اولس ډېره خوشحالي څرګنده کړه.



د باچا خان پرائمري سکول شهباز ګړهې د پرانستې په موقع محترمې جمیله ګېلاني ووئیل چې د باچا خان ټرسټ ایجوکېشنل فاؤنډېشن (BKTEF) له خوا په شهباز ګړه کښې سکول جوړول لویه خبره ده او دا شان به د دې علاقې خلقو او ماشومانو ته د تعلیم وتربیت بنیادي آسانۍ په لاس ورشي. محترمې جمیله ګېلاني په دې موقع د علاقې خلقو ته غږ وکړو چې راوړاندې شي او خپل بچې د تعلیم په کالو ښائسته کړي ځکه چې د دې نه بغیر د ترقۍ او سو کالۍ بله یوه لاره نشته.
هغې ووئیل چې فاؤنډېشن سکول جوړ کړو ، عمله ئې و لګوله او ماشومانو ته ئې وړیا کتابونه ، کاپۍ ، جامې ، پېزار او نور مواد ورکړل ، اوس دا د مقامي خلقو ذمه واري جوړیږي چې دا سکول کامیاب کړي، مخ په وړاندې ئې بوځي، خصمانه ئې وکړي او د ترقۍ بام ته ئې وخیژوي.



د باچا خان ټرسټ ایجوکېشنل فاؤنډېشن ایم ډي محمد رضا په دې موقع ووئیل چې دا وخت د باچا خان په سکولونو کښې شپاړس سوه هلکان جینکۍ سبق وائي او ټولو ته وړیا تعلیم وتربیت ورکولے شي. محمد رضا ووئیل چې نننے دور د تعلیم دور دے، نن سبا دور کښې مقابله د تورې او ټوپک نه بلکې د ذهن او ټیکنالوجۍ ده او هغه خلق، هغه قامونه کامیاب دي او ترقي کوي څوک چې اعلی تعلیم یافته دي. پښتون اولس ته د اعلی او معیاري تعلیم وتربیت سره سره دا استاذانو تربیت او ترقۍ د پاره هم کوششونه نښۀ په درز کښې روان دي. د دې غرض د پاره به دوه باچا خان ماډل سکولونه او یو کالج جوړولے شي چې په کښې به ټولۍ اسانۍ (کتابونه، کاپۍ، جامۍ پېزار، خوراک، څښاک، اوسېدل وغیره) ښخي وړیا وي. چې دا شان زمونږ خلق ترقي وکړي او د نوي دور د چېلنجونو سره د مقابلې جوګه شي.

نامتو شاعر او لیکوال رحمت شاه سائل په دې موقع خپل نظم ,,پوهه رڼا ده،، په خصوصي توګه واورلو، کوم چې حاضرینو ډېر خوښ کړو. رحمت شاه سائل په دې موقع خپلو خبرو کښې ووئیل چې په شهباز ګړه، صوابۍ، درګۍ، مالاکنډ کښې د باچا خان په حقله خبره کول ګران کار دے ځکه چې د دې سیمو بچے بچے د باچا خان او د هغو د کارنامونه ښۀ خبر دي. رحمت شاه سائل د علاقې اولس سره د باچا خان د مینې او د خلقو باچا خان سره د عقیدت او احترام په خصوصیت سره ذکر وکړو-



محترمه ظاهره خټک غونډې ته د خبرو اترو په وخت ووئیل چې د باچا خان تعلیمات او خدمات د پښتون اولس د پاره د لارې مشالونه دي او په باچا خان سکولونو کښې د پښتو ژبې ښودنې، ترقۍ او روزنې دپاره کوششونه د ستائنې وړ دي.

د باچا خان ټرسټ ایجوکېشنل فاؤنډېشن پروګرام منیجر وقار احمد خټک د سټېج سکتر فریضه تر سره کړه او وخت په وخت ئې د باچا خان سکولونو په حواله بنیادي او ضروري معلومات خلقو ته ورکړل. وقار خټک مقامي خلقو ته وریا د کړل چې باچا خان د ټولو پښتنو مشر وۀ او د هغۀ د نامې په سکولونو کښې د یوې پارټۍ نه بلکې د ټولو پښتنو بچو ته یو شان تعلیم وتربیت ورکولے شي. وقار خټک دا خبره سپینه کړه چې په باچا خان سکولونو کښې د هرې پارټۍ، هرې طبقې او درجې خلق شته او باچا خان ټرسټ ایجوکېشنل فاؤنډېشن ټول اولس ته یو شان او وړیا تعلیم وتربیت یقیني کوي.